# نوی لیکدود

## د پښتو ژبي د لیکلو نوی سیستم

Ketabton.com

- نوی لیکدود
- د لوست کتاب

لیکوال : فضل الرحمن نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی لیکدود

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بسم الله الرحمن الرحيم

وېل کيږي چې پښتنو ته د اسلام لهٔ راتګ وړاندي پښتو ژبه پهٔ خروشتي او يوناني ليکدود ليکل کېده، خو کله چې پښتنو ته د اسلام زريني وړانګي را ورسېدې نو د پښتو رسم الخط هم پهٔ عربي رسم الخط واوښت، دا چې پهٔ فارسي او پښتو کې داسي غږونه شته چې پهٔ عربي ژبه کې نشته، نو د عربي ژبي پهٔ ځينو تورو کې ځيني نښي او علامې زياتي کړل شوې تر څو د هغو غږونو استازولي وکړي چې فارسي او پښتو ژبه يې لري، او عربي ليکدود د هغو لپاره کوم توری نه لري، نو لهٔ همدې وجي لومړی فارسيانو د فارسی ژبي لپاره ځيني توري وضع کړل لکه :چ، ژ، پ او ګ .خو لکه څنګه چې پښتو ژبه لهٔ فارسي ژبي زيات غږونه لري، نو د فارسي د يادو تورو تر څنګ پهٔ پښتو کې د نښو پهٔ زياتولو سره نور توري هم رامنځته شول، لکه:ټ، څ، ځ، ډ، ړ، ږ، ښ او ڼ .خو د يادو تورو رامنځته کول يواځې د بې غږه تورو پهٔ برخه کې وو او پښتو ژبه پهٔ دې برخه کې اوس ستونزه نه لري خو د غږيزو تورو پهٔ برخه کې نهٔ پهٔ فارسي کې کوم توری رامنځته شو او نه هم پهٔ پښتو کې، يواځې هغه غږيز توري چې عربي کې شته پهٔ فارسي او پښتو کې کارول کيږي خو د فارسي او پښتو د ځانګړو غږيزو تورو لپاره يا بيخي کوم توری نه ليکل کيږي، يا هم بې غږه توری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکل کيږي، چې پۀ دې سره يو توری کله د يو غږ استازولي کوي او کله د بل غږ استازولي کوي.

د وخت پۀ تېرېدو سره د بې غږه تورو پۀ برخه کې د پښتو ژبي ليکدود څۀ پرمختګ وکړ، پۀ پښتو ژبه کې د زورکي لپاره د ها توري لۀ پاسه د ليکوالانو لۀ خوا د لکۍ لرونکي يا نښي ته ورته ځانګړي نښه کارېدله، خو د عصري او کمپيوټري کيليدړو پۀ راتګ سره د هغې استعمال هم ختم شو، ځکه چې پۀ کيليدړو کې هغه نښه نه وه، همدارنګه پۀ پښتو کې پينځه ياګاني رامنځته شوې، چې ځيني يې يواځې د يوه غږيز توري لپاره دي لکه اوږده يا، خو ځيني يې يو غږيز او بل بې غږه توری رانغاړي لکه کړواله او ښځينه يا چې د زورکي او بې غږه يا استازولي کوي، او بې ټکو يا چې د زور او بې غږه يا استازولي کوي .خو دا ډول زياتوني که لۀ يوې خوا پرمختګ دی لۀ بلي خوا پۀ دې سره د پښتو توري زياتيږي، او د پښتو ژبي شته ستونزي هم نه ورباندي حل کيږي.

پۀ پښتو کې کړواله، ښځينه او بې ټکو ياګاني صرفي او ګرامري ياګاني ګڼلی شو خو د رسم الخط ياګاني نه دي، نو لۀ همدې وجي پۀ رسم الخط او ليکدود کې هم منځته راوړني بايد د همدې څانګي لۀ ادرسه وي، نه د بلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګي لۀ ادرسه، ځکه چې دا د رسم الخط دنده ده چې یو توری د یو غږ استازولي وکړي، او باید رسم الخط د یو غږ لپاره ځانګړی توری ولري، رسم الخط دا دنده نه لري چې موږ ته مذکر او مونث را وپېژني، یا اسم او فعل راوپېژني دا شیان پۀ ګرامر پوري اړه لري.

د پښتو ژبي د غږیزو تورو د کمښت لۀ امله ځیني لیکوالان وايي چې د پښتو رسم الخط باید پۀ لاتیني رسم الخط واوړي، لکه څنګه چې ترکانو او تاجکانو د خپلو ژبو رسم الخط پۀ لاتینی لیکدود اړولی دی، دوی وايي چې لاتیني لیکدود د شته ستونزو ځواب ویلی شي، خو پۀ لاتیني لیکدود رسم الخط اړول که یاده ستونزه حل کولی شي لۀ بله اړخه ستونزي او زیانونه هم لري، لۀ نوي سره د نوي لیکدود زدکړه، لۀ دیني اړخه لۀ قرآن او احادیثو سره اړیکي پرې کېدل، پۀ تاریخي او پخوانیو کتابونو او لیکل شویو آثارو باندي د نوي نسل نه پوهېدل، دا هغه ستونزي دي چې پۀ لاتیني لیکدود پلی کولو سره به رامنځته شي، همدارنګه پۀ یوه داسې جغرافیه کې د لاتیني لیکدود پلی کول ګټور نه دي چې وګړي یې عربي لیکدود کاروي لکه عربي، فارسي، اردو او د نورو ژبو ویونکي، بلکې دا به د پښتو د پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ ځای د وروسته والي سبب وګرځي  او پښتو به د فارسي او اردو څنګ پرمختګ لهٔ امله نوره هم لهٔ زوال سره مخ شي.

همدارنګه موږ چې پهٔ ديني برخه کې زيات کتابونه او ليکني لرو لهٔ هغو سره به مو هم اړيکه وشليږي، نو لهٔ يوه پلوه به موږ د ديني معلوماتو د پانګې لهٔ فقر سره مخ يو لهٔ بله پلوه به پهٔ لاتيني ليکدود کې موږ ته دښمن داسې افکار او نظريات راوړي چې زموږ لهٔ دين سره پهٔ ټکر کې وي، پهٔ لاتيني ليکدود سره زموږ خپل کلتور او هويت ته هم زيان رسيږي.

يادو ستونزو ته پهٔ کتو سره بايد يوه داسي حل لاره وموندل شي چې زيان هم ونه لري، او پښتو ژبه هم يو بشپړ يا بشپړ ته نږدې غږيز ليکدود ولري، زما پهٔ نظر يوه لاره دا هم کېدلی شي چې د بې غږه تورو پهٔ څېر دې د غږيزو تورو لپاره هم د پښتو پهٔ اوسني ليکدود کې ځيني توري زيات کړل شي، تر څو د پښتو د ټولو غږونو استازولي وکړي، پهٔ دې توګه هغه ستونزه چې پهٔ لاتيني ليکدود سره حل کېدلی شي پهٔ اوسني ليکدود سره هم حل کېدلی شي، د همدې لپاره لهٔ تاسو سره د ليکلو يو نوی ليکدود شريکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ نوي ليکدود يا د ليکلو پهٔ نوي سيستم کې ټول پخواني توري کارول کيږي، خو ځيني توري زياتيږي، ځيني لهٔ مينځه ځي، د کلمو پهٔ منځ يا پيل کې بيا د ځينو تورو پهٔ ځای نښې زياتيږي .نوی ليکدود اوسني ليکدود ته ډېر ورته دی، او هر څوک پهٔ اساني سره پرې پوهېدلی شي او ژر زده کېدلی هم شي.

## د پښتو بې غږه توري

لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه پښتو ژبه د بې غږه تورو پهٔ برخه کې کومه د پام وړ ستونزه نه لري، لهٔ دې وجې پهٔ نوي ليکدود کې هم ټول پخواني بې غږه توري کارول کيږي، د پښتو بې غږه توري دا دي.

ب، پ، ت، ټ، ث، ج، چ، ح، خ، څ، ځ، د، ډ، ذ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ښ، ش، ص، ض، ط، ظ، ع، غ، ف، ق، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، و، ه، ء، ي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو واول یا غږیز توري

پهٔ اوسني لیکدود کې د هر غږیز توري لپاره ځانګړي بڼه نشته، یا شته خو د کلمې پهٔ ځینو برخو کې لیکل کیږي او پهٔ ځینو برخو کې نه لیکل کیږي، پهٔ نوي لیکدود کې د هر غږیز توري لپاره یوه نه یوه بڼه شته، خو د کلمې پهٔ پیل یا منځ کې د ځینو تورو لپاره نښې زیاتې شوي دي، چې پهٔ لاندې کرښو کې یې پېژندلی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱ -لنډ الف: ه (a)

لنډ الف چې پهٔ ها سره هم مشهور دی، پهٔ نوي ليكدود كې مو پهٔ لنډ الف سره ځكه نومولی دی چې د الف نيم غږ لري .پهٔ اوسني ليكدود كې د لنډ الف لپاره د كلمې پهٔ پای كې د ها بڼه كارول كيږي لكه پهٔ" ونه"، "ځمكه "او نورو بېلګو كې، او پهٔ پيل كې د الف بڼه ليكل كيږي لكه پهٔ "انګور"، "انځور "او داسې نورو بېلګو كې .پهٔ نوي ليكدود كې هم د ياد توري لپاره د كلمې پهٔ پای كې د ها بڼه كارول كيږي، او د كلمې پهٔ پيل كې فتحه لرونكی الف (آ) كارول كيږي، او د كلمې پهٔ منځ كې يواځې فتحه ليكل كيږي.

د كلمې پهٔ منځ او پيل كې مو د لنډ الف لپاره د ها توری ځكه ونه كاراوهٔ چې لهٔ اوسني ليكدود سره يې تنافر زيات نه شي، چې بيا نهٔ موږ ته د پوهېدو وړ وي او نه راتلونكي نسل ته، بڼه به دا وي چې ليكدود هم غريز شي، او اوسنی ليكدود هم د پوهېدو وړ پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ -لنډه یا :ۍ (i)

اوسني ليکدود کې د لنډي يا لپاره چې يو غبږيز توری دی د بې د غږه يا بڼه ليکل کيږي، په نوي ليکدود کې د لنډې يا لپاره د يا لهٔ پاسه د اتو عدد ته ورته نښه زياته شوي ده، تر څو لهٔ نورو ياګانو سره يې توپير وشي .لنډه يا د کلمې پهٔ هره برخه کې د ليکلو وړ ده.

البته د عربي ژبي هغه کلمې چې پهٔ پښتو کې دود دي، که چېرې پهٔ عربي ژبه کې زېر ولري، نو سره لهٔ دې چې زېر د لنډې يا غږ لري؛ پهٔ نوي ليکدود کې به لنډه يا نه ليکل کيږي بلکې د عربي پهٔ څېر به زېر ورکول کيږي، دا د دې لپاره چې د عربي ژبي پهٔ کلمو کې داسي بدلون رانشي چې عربي کلمې اوسني ليکدود څخه هم پردۍ شي او د فارسي، اردو او نورو ژبو ويونکو ته هم پردۍ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳ -لنډ واو :ۋ (u)

پهٔ اوسني ليکدود کې د لنډ واو لپاره هم چې يو غږيز توری دی د بې غږه واو بڼه کارول کيږي، پهٔ نوي ليکدود کې د لنډ واو لپاره د بې غږه واو لهٔ پاسه د اتو عدد ته ورته نښه زياته شوي ده، تر څو لهٔ نورو واوونو سره يې توپير وشي، لنډ واو هم د کلمې پهٔ ټولو برخو کې ليکل کېدلی شي.

خو د عربي ژبي هغه کلمې چې پهٔ پښتو کې دود دي، که چېرې پهٔ عربي ژبه کې پېښ ولري، نوي ليکدود کې به هم پېښ ورکول کيږي، سره لهٔ دې چې د پېښ او لنډ واو غږ يو دی، خو د دې لپاره چې نوی ليکدود لهٔ اوسنی ليکدود او د فارسي، اردو او نورو ژبو لهٔ ليکدودونو سره ډېر واټن پيدا نه کړي، يواځې پېښ به ليکل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴ -اوږد الف (الف): ا (ā)

پهٔ اوسني ليکدود کې الف چې نوي ليکدود کې پهٔ اوږد الف سره نومول کيږي، کله د اوږد الف لپاره، کله د لنډ الف لپاره کارول کيږي لکه پهٔ "وار "کې چې د اوږد الف لپاره او" انځور "کې د لنډ الف لپاره کارول شوی دی، او کله بيا د همزې لپاره کارول کيږي سره لهٔ دې چې پښتو کې همزه نشته لکه د" اينځر "او" اوبه "پهٔ کلمو کې چې الف د همزې لپاره زيات شوی دی.

پهٔ نوي ليکدود کې د اوږد الف لپاره خپله د الف بڼه کارول کيږي، خو پهٔ نوي ليکدود کې به دغه بڼه يوائې د اوږد الف لپاره د کلمې پهٔ ټولو برخو کې کارول کيږي، او د بل غږ لپاره به نه کارول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ -اوږده یا: ې(e)

د اوسني لیکدود په څېر نوي لیکدود کې هم د اوږدې یا لپاره د بې غږه یا بڼه لیکل کیږي چې لاندي دوه سر په سر ټکي لري، لهٔ اوسني سره یې توپیر دا دی چې اوږده یا اوسني لیکدود کې د کلمې په پیل کې نه لیکل کیږي، خو نوي لیکدود کې لیکل کیږی.

## ۶ -اوږد واو : ۆ (O)

پهٔ اوسنی لیکدود کې د اوږد واو لپاره ځانګړي بڼه نشته، د اوږد واو لپاره د بې غږه واو توری لیکل کیږي، پهٔ نوي لیکدود کې د یاد غږیز توري لپاره د یا لهٔ پاسه د اوه عدد ته ورته نښه زیاته شوي ده، او د کلمې پهٔ ټولو برخو کې د لیکلو وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷ -زورکی : ۀ (ə)

اوسني ليکدود کې د کلمې پۀ پای کې د زورکي غږيز توري لپاره د ډېرو ليکوالانو لۀ خوا د ها لۀ پاسه وړه همزه ليکل کيږي، خو پۀ منځ کې د کاروني وړ نه ده، پۀ نوي ليکدود کې هم د کلمې پۀ پای کې همدا بڼه ليکل کيږي، او د کلمې پۀ منځ کې د بې غږه توري لۀ پاسه بيضوي ولاړ شکل"" ليکل کيږي چې ګردۍ ها ته ورته ده، تر څو د زورکي پۀ غږيز توري دلالت وکړي، خو د کلمې پۀ پيل کې زما پۀ نظر پۀ پښتو کې کومه بېلګه نشته؛ لۀ همدې وجې د کلمې پۀ پيل کې د ياد توري لپاره پۀ نوي ليکدود کې هم کومه بڼه نه ده غوره شوې.

يادونه:

که وغواړو چې اوږد معروف واو وليکو نو د عربي ژبې پۀ څېر يې ليکلی شو چې لنډ واو او بې غږه واو يوځای وليکل شي لکه مُوْسی چې پۀ عربي کې لۀ ميم نه وروسته لنډ پېښ او بې غږه واو راغلي دي خو پښتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مؤسی "یواځې لنډ واو ویل کیږي، پښتو کې د اوږد معروف واو مثالونه دا دي"کوورو "ټاپوو ... "یا وغواړو چې اوږده معروفه یا ولیکو نو لنډه یا او بې غږه یا یو ځای لیکو، لکه"کیږي "او" یشي.... ".

## د عربي او پښتو کلمو توپیرونه

پهٔ عربی ژبه کې داسې توري شته چې پښتانهٔ یې نه وایي، خو پهٔ پښتو کې پهٔ مستعار ډول کارول کیږي لکه ع، ح، ف، ق، ص، ض، ط، ظ، ث او ذ . پښتانهٔ دغه توري لیکي خو تلفظ یې نه کوي بلکې یادو تورو ته چې پهٔ پښتو تورو کې کوم توری نږدې وي هغه تلفظ کوي، لکه" ف "پهٔ "پ "سره،" ص "او" ث "پهٔ" س "سره" ط "پهٔ" ت "او نور پهٔ ځینو نورو تورو سره تلفظ کوي .پهٔ کومه کلمه کې چې یاد توري راغلي وي نو د عربي ژبي به وي، یا به هم د کومي بلي ژبي وي، د یادو تورو ترڅنګ همزه هم د عربي ژبي توری دی ځکه چې پښتو کې داسي بېلګه نشته چې د کلمې پهٔ منځ یا پای کې یې همزه راغلي وي، او پهٔ پیل کې چې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري د همزې پهٔ بڼه ليکل کيږي همزې نه دي بلکې غريز توري دي، لکه : انګور، کې لنډ الف دی، اينځر کې لنډه يا ده او اوبهٔ کې لنډ واو دی دا به پهٔ نوي ليکدود کې د غږيزو تورو پهٔ بڼه ليکل کيږي، د همزې پهٔ بڼه به نه ليکل کيږي.

لهٔ دې بحث نه دا نتيجه لاسته راځي چې کومه عربي کلمه پهٔ سر کې همزه ولري وروسته يې که هر ډول غږيز توری راشي، نو همزه به کښل کيږي، غږيز توری به نه کښل کيږي .لکه :اِسلام کې لهٔ همزې وروسته لنډه يا "زېر" راغلي ده، نو دغه توری "اِ" به همزه کښل کيږي، ځکه چې عربي کلمه ده او لنډه يا به نه کښل کيږي خو پهٔ اينځر کې چې نوي ليکدود کې داسې ليکل کيږي" يْنځر "همزه نه ده بلکې لنډه يا ده ځکه چې اينځر پښتو کلمه ده، خو دغه توپير يواځې پهٔ ليکلو کې څرګنديږي، تلفظ د دواړو يو ډول دی.

همدارنګه اوبهٔ به" ؤبهٔ "ليکل کيږي" اوبهٔ "به نه ليکل کيږي، ځکه چې پهٔ پيل کې يې لنډ واو غږيز توری راغلی دی، همزه نه ده، او اخروي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



"اُخرَوښ "لیکل کیږي ځکه چې دا عربي کلمه ده، پهٔ سر کې یې غږیز توری نه راځي بلکې پهٔ سر کې یې لنډه پېښې لرونکې همزه راغلې ده .خو کوم ځای کې چې د کلمې پهٔ سر کې پهٔ پښتو کې لنډ الف راغلی وي یا پهٔ عربي کې زورلرونکې همزه راغلې وي لیکل او تلفظ به یې یو ډول وي، یواځې نوم به یې بدل وي، عربي کلمه کې به زورلرونکې همزه نومیږي او پښتو کلمه کې به لنډ الف ګڼل کیږي لکه :اَمر چې عربي کلمه ده نو" اَ " به همزه نومول کیږي، او اَنګوَر چې پښتو کلمه ده نو" اَ "به لنډ الف نومول کیږي، اګر که د دواړو لیکل او ویل یو رنګ دي.

زیاتوني:

نوي لیکدود کې لاندي توري زیات شوي دي

۱ - ۋ

۲- ئ

۳- ۆ

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ـ آ

٥ـ ه (لنډ الف يا هغه ها چې راتلونکي کلمې پسې نه نښلي).

همدارنګه لاندي نښې زياتي شوي دي

١ـ ◌َ

٢ـ ◌ِ

٣ـ ◌ُ

٤ـ ◌ْ

که د دغو ښو پهٔ ځای نوري ښې غوره وبلل شي تغير هم کې راتلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونې:

لاندې توري په نوي ليکدود کې کم شوي دي

۱ -کږواله يا (ئ)

۲ -بڼې ټکو يا (ى)

۳ -لکۍ لرونکي يا (ۍ)

د غږيز ليکدود اړتيا

لکه څنګه چې نوی ليکدود يو غږيز ليکدود دی، او غږيز ليکدود د هري ژبي لپاره ګټور وي، يوه ژبه په غږيز ليکدود سره ښه پرمختګ کولی شي، لوستل يې اسانه کيږي، او مختلفو لهجو څخه يوه معياري لهجه په دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکدود سره منځته راتلی شي، لۀ دې وجي د پښتو لپاره هم داسي ليکدود
اړين دی.

پښتو يوه داسي ژبه ده چې اوښتي حالتونه يې ډېر دي، پۀ اوسني ليکدود
کې اوښتي حالتونه پۀ سمه توګه نه معلوميږي، لۀ دې وجي کله چې د دري
ژبي ويونکي پښتو متن لولي ډېر تېر وځي، لۀ مفرد نه جمع جوړه کړي، لۀ
جمعي نه مفرد جوړ کړي، غير مغير حالت مغير کړي، مغير حالت غير مغير
کړي چې پۀ دې سره جمله کې ګډوډي رامنځته کيږي.

دا تېر وتني کله کله لۀ لوستو خلکو او د راډيوګانو لۀ نطاقانو څخه هم کيږي
خو پۀ نوي ليکدود کې دا تېروتني کميږي يا بيخی لۀ منځه ځي.

کيدی شي لوستونکي دا فکر وکړي چې دا ډول ليکدود پۀ فارسي او اردو
ژبو کې هم نه دی پلی شوی، نو پۀ پښتو کې ولي پلی کيږي؟ خو زما پۀ
اند پښتو ژبه لۀ فارسي او اردو ژبو څخه غرېز ليکدود ته ډېره اړتيا لري،
ځکه پښتو مغير حالتونه ډېر لري، تر دې چې د نځ لۀ وجي هم پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري بدلون کوي، لکه" سپېڅلی "چې ښځ يې د ښځې نه وروسته پهٔ لنډ الف راغلی دی، پهٔ متغير حالت کې لنډ الف پهٔ زورکي بدليږي او "سپېڅلي "وېل کيږي .که چېري ښځ د کلمې پهٔ پای کې راغلی وي بيا لنډ الف يا بل غږيز توری پهٔ زورکي نه بدليږي، لکه" سړی "چې مغير حالت يې" سړي "ده.

## بدلونونه او توپيرونه

يواځې هغه ځايونه چې پهٔ نوي رسم الخط کې بدل شوي دي، دا دي.

ا:

ياد توری اوسني ليکدود کې څو هدفونو لپاره کارول کيږي، خو نوي ليکدود کې يواځې د "ā" غږ لپاره ټاکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آَ:

دغه توری اوسني ليکدود کې نشته، نوي ليکدود کې د "a" غږ لري . همدارنګه د ياد غږ لپاره نوي ليکدود کې د کلمې منځ کې يواځې زور ـَ زيات شوی چې د a غږ لري.

داسې هم کېدی شوه چې (ه) په پيل او منځ کې وکارول شي لکه څنګه چې په پای کې کارول کيږي، خو لۀ دې امله چې نوی ليکدود لۀ اوسني ليکدود سره ډېر پردی نه شي په پيل کې او منځ کې يې شکل يو نه کړل شو لکه" اَفغانيښتان "لۀ" هفغانيښتان "څخه" افغانستان "ته ډېر نږدې ده، او" ځمَکه "لۀ" ځمهکه "څخه" ځمکه "ته ډېر نږدې ده.

ئْ:

دغه يا اوسني ليکدود کې نشته، نوي ليکدود کې زياته شوي ده، همدارنګه کومه کلمه چې عربي کې زېر لري، نوي ليکدود کې هم د زېر نښه ورکول کيږي .خو پيل کې دغه نښه" اِ "يواځې د زېر لرونکي همزې لپاره ده، لنډه يا به نه نومول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ۇ :

دا واو د لنډ واو لپاره ټاکل شوی، د لنډ واو لپاره مخکې بې غږه واو کاریدۀ.
د دې لپاره چې د نوي او پخواني ليکدود تر منځ ډېر واټن رانشي يواځې
يې لۀ پاسه يوه نښه زياته شوه .لکه" لۇر "(د زوي خور) چې مخکې لور
ليکل کېده .که چېرې د عربي ژبې پۀ يوې کلمې کې پېښ وي، نو پښتو
کې به هم پۀ پېښ سره ليکل کيږي .همدارنګه که د عربي ژبي پۀ يوې کلمې
کې پېښ لرونکي همزه راشي د عربي پۀ څېر به" اُ "ليکل کيږي، او دې ته
به لنډ واو نه ويل کيږي، لکه" اسامه "چې" اُسامه "ليکل کيږي .

ۆ :

دا واو پخواني ليکدود کې نه کاريدۀ.

ْ :دغه نښه د زورکي غږيز توري لپاره د کلمې پۀ منځ کې زياته شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه :

پهٔ لاتيني ليکدود کې د همزې لپاره ځانګړې بڼه نشته، ځکه چې پهٔ لاتيني ژبه کې همزه نشته، پښتو ژبه هم همزه نه لري، يواځې د کلمې پهٔ پيل کې راځي هغه هم پهٔ اصل کې همزه نه وي بلکه غبرِيز توری وي، پهٔ دې دليل چې پښتو کې داسې ساري نشته چې همزه د کلمې پهٔ منځ کې يا پای کې راغلي وي، لهٔ همدې امله کله چې اور، انګور، اينګور، اوسپنه آفرين پهٔ لاتيني ليکدود کې ليکو د همزې لپاره يې ځانګړی شکل نه ليکل کيږي بلکه همدغه غبرِيز توري د همزې پهٔ ډول تلفظ کيږي او ليکل کيږي لکه or angur, ingor, ubə, āfarin

که غواړو چې لهٔ عربي رسم الخط نه ګټه واخلو نو موږ دوه اختياره لرو، يو دا چې کټ مټ د لاتيني ليکدود پهٔ څېر کار وکړو او همزه ونه ليکو خو غبرِيز توري د غبرِيزو تورو سره د همزې پهٔ څېر تلفظ کړو، نو تېرې بيلګې به داسې ليکو " ؤر، اَنګؤر، ېنګؤر، ؤبهٔ، افرێن ."دوهم اختيار دا دی چې همزه د يو مستقل توري پهٔ توګه ځانګړي وليکل شي او لهٔ هغې وروسته غبرِيز توری هم وليکل شي نو يادي بيلګې به داسي ليکل کيږي :أؤر، اَنګؤر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اېنګوّر، أؤبۀ، آفَرېن .خو پۀ دوهم اختيار غوره کولو سره غربيز توري پۀ خپلواکو غربيزو تورو نومول ناسم بريښي ځکه چې پيل کې د راتلو جوګه نه شول پۀ داسې حال کي چي غبربيز خپلواک توري د کلمې پۀ هره برخه کې راتلی شي .پۀ دې دواړو اختيارونو کې بايد يو غوره شي هغه چې د ژبې لۀ طبيعت سره جوړ وي، نوي ليکدود کې لومړی اختيار غوره شوی. د لومړي اختيار ګټه دا ده چې کلمه لنډه ليکل کيږي، او همدارنګه که څوک غواړي چې پښتو کلمه يا متن پۀ IPA (نړيوال فونټيک الفبا) باندي واړوي پۀ اسانۍ سره کولی شي او سافټويرونو سره دا کار نور هم اسانه کيدلی شي.

د دې مطلب دا نه دی چې همزه لۀ منځه يوړل شي، بلکه همزه هم بايد پۀ خپل ځای پاتي شي او يو مخ لۀ الفبا څخه لري نه شي ځکه همزه هم د عربي ژبي د نورو تورو لکه ح ع، ف، ق، ص، ض، ط، ظ پۀ څېر د پښتو يو توری ګڼل کيږي .لکه :قراءت، مسأله، قرآن، مسؤول او داسي نورو کې همزه کارول کيږي.

همزه څو شکله لري، چې د استعمال ځانګړي ځايونه لري لکه :ء، أ، ئ، ؤ. همدارنګه هر الف چې زبر يا پېښ لري همزه بلل کيږي لکه : اِ ، اُ . که

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور لري نو كه چېرې عربي كلمه وي بيا به هم همزه نوميږي لكه اَمر، كه عربي كِلمه نه وي نو لنډ زور به نوميږي، لكه اَنګوُر.

همدارنګه كه چېرې (ا) د كلمې پۀ سر كې راشي اوږد الف به ګڼل كيږي، كه عربي كلمې كې دا ډول غږ د كلمې پۀ پيل يا منځ كې راشي نو داسي (آ) به ليکل كيږي او" همزه+الف "به ګڼل كيږي لكه آخَر او قُرآن. كه چېرې عربي كلمه كې الف او لنډه يا يو ځاى راشي مجموعه به مكسوره همزه ګڼل كيږي لكه اِيمان.

## نوى ليكدود او ياګانې

ى : دغه الفي يا ده، د الف د غږ لپاره دعربي ژبي د ځينو كلمو پۀ پاى كې ليكل كيږي چې راتلونكي كلمه نه پسې نښلي لكه پۀ موسى، عيسى او داسې نورو بېلګو كې.

ئ : د دې پۀ ځاى داسي ليکل كيږي ( ۨي) لكه :كړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئ : د دې پهٔ ځای داسي ليکل کيږي ( ْي) لکه :وَلوَلْي

ي : دغه يا به يواځې د بې غږه يا لپاره کارول کيږي .لکه :يَو

ې : دغه يا هم ثابته پاتي کيږي .لکه :شپې.

ى : دغه بې ټکو يا چې راتلونکي کلمه پسې نښلي، نوي ليکدود کې نه کارول کيږي.

## لهٔ لاتيني ليکدود سره د نوي ليکدود توپير

نوى ليکدود لهٔ لاتيني ليکدود سره څو توپيرونه لري، پهٔ لاتيني ليکدود کې هر غږيز تورى د کلمې پهٔ هره برخه کې يو ثابت او نه بدليدونکى شکل لري خو پهٔ نوى ليکدود کې د دې لپاره چې لهٔ اوسني ليکدود سره يې تنافر او لرې والى لږ وي د ځينو غږيزو تورو شکلونه د کلمې پهٔ پيل، منځ او پاى کې بدليږي، خو د ټولو دنده يوه وي.

پهٔ کلمه کې د غږيزو تورو د شکلونو بدليدل که لهٔ يوه اړخه ستونزه جوړوي، خو لهٔ بله اړخه ګټور هم دي، د غږيزو تورو د شکلونو بدليدل مو لهٔ پخواني ليکدود سره نه پردي کوي، کلمه راته پهٔ خپل اصل باندي ساتي، دغه ګټي لاتيني ليکدود نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه لنډ الف پهٔ لاتيني ليکدود کې ثابت توری (a) لري خو نوي ليکدود کې پهٔ پيل کې (آ) ليکل کيږي، منځ کې (َ) يواځې فتحه يعني زور ليکل کيږي او پای کې (ه) ليکل کيږي.

همدارنګه زورکی پهٔ نوي ليکدود کې دوه بڼې لري.

## د نوي ليکدود ګټې چې لاتيني ليکدود يې نه لري

۱ ـ د نوي ليکدود يوه ګټه دا ده چې پښتانه او د عربي، فارسي، اردو او نورو ژبو ويونکي چې عربي رسم الخط کاروي پهٔ اسانۍ سره پرې پوهيدلی شي، او هغوی به يې پهٔ لوستلو د پرديتوب هيڅ احساس نه کوي، پهٔ داسې حال کې چې موږ هم پهٔ داسي جغرافيه کې پراته يو چې عربي رسم الخط پکې کارول کيږي.

۲ ـ بله ګټه يې دا ده چې پهٔ پښتو ګرامر کې دوه ډوله دالونه کارول کيږي چې د اضافت او حکم دالونه دي پهٔ نوي ليکدود کې يې توپير کيدی شي، دا ځکه چې د اضافت دال داسې ده لکه د کلمې پهٔ منځ کې چې وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پهٔ نوي ليکدود کې يې لهٔ پاسه زور ليکل کيږي، وروسته يې غږيزه ها نه ليکل کيږي او د حکم دال پای کې وي نو وروسته ترې غږيزه ها ليکل کيږي لکه :دا دَ اَحمد کِتابچه ده .خو پهٔ لاتيني ليکدود کې دواړه دالونه يو ډول ليکل کيږي لکه: dā da ahmad kitabcha da. نو ډېر ځله به پهٔ لاتيني ليکدود کې لوستونکی شکمن کيږي چې دا کوم دال ده.

۳ـ بله ګټه يې دا ده چې نوي ليکدود کې د عربي ژبي ټولي کلمې پهٔ خپل اصل ساتل کيږي، او دا ترې جوتيږي چې پهٔ عربي ژبه کې يوه کلمه پېښن لري او که زېر لري يا واو لري او که يا لري، چې د معنی لهٔ اړخه دا کار ډېر مهم دی، لکه :سالِم، چې دا ترې څرګنديږي چې لام پهٔ عربي کې هم زېر لري، او کرِيم چې دا ترې جوتيږي چې را پهٔ عربي کې زېر نه لري بلکې لهٔ را نه وروسته يا ده، خو پهٔ لاتيني کې دواړه کلمې داسې ليکل کيږي sālim, karim چې دا نه ترې څرګنديږي چې لام او را نه وروسته پهٔ اصل کې زېر دی او که يا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٤ـ له دې سره په نوي ليکدود کې لوستونکی په اسانۍ سره د عربي او پښتو کلمو توپير هم کولی شي.
کېدی شي چې نوی ليکدود ديني، تاريخي، ادبي، کلتوري د اسانه پلی کېدلو او نوري ګټي هم ولري.

## څنګه نوی ليکدود په IPA (نړيوالې غږيزې الفبا )واړوو؟

تاسې که د مايکروسافټ ورډ د ليکلو پروګرام لرئ يا بل پروګرام لرئ چې د find and replace اختيار يا افشن ولري؛ کولی شئ چې په نوي ليکدود ليکل شوې ليکنه يا کتاب په اسانۍ سره په IPA واړوئ.
لهٔ ټولو وړاندي الله کلمه په دې تورو واړوئ.allah
له هغه وروسته لاندي توري هم واړوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| ه (غَرِيزه ها) | a |
| هٔ | ə |
| ئِ / ئۍ | yi |
| ِئ | e |
| ُؤ | o |
| اء | ā |
| َأ | ā |
| اِ | i |
| اُ | u |
| اَ | a |
| ْ | ə |
| ؤۇ | u |
| ِ | i |
| ُ | U |
| َ | a |
| ائ | i |

-لهٔ شد سره یو توری پهٔ ډبل تورو واړوئ، لکه مُحمَّد کي مّ پهٔ mm

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړوئ

- هر حرف په متبادل لاتيني حرف واړوئ .چې په دې کې زوري ها هم ده چې په a بدليږي.

- لکۍ لرونکې او کړواله يا په اصل کې دوه توري دي که ليکلې مو وي نو په əy يې بدله کړئ

- که نيمه فاصله مو کارولي وي په دې نښې ' يې بدله کړئ.

ـ که موسی، عيسی او ورته نومونو کې مو دغه الفي يا (ی) کارولې وي نو په ā يې واړوئ.

- کيڼ ليکلوری وټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوي ليکدود پهٔ اړه د بحث، نورو معلوماتو او پوښتنو لپاره لاندي تجربوي فيسبوپانه خوښه کړئ.




https://www.facebook.com/۱۰۳۷۵۲۹۵۸۲٦۰۷۹۲

ټيليګرام چينل

t.me/naway_likdod

## د نوي ليکدود لپاره کيليدړه جوړه کړئ

لاندي کيليدړه ښکته کړئ ، کله مو چي کيليدړه جوړه کړه، د فاصلې تنۍ ټينګه ونيسئ ، Languagesته لاړشئ ، دريیم افشن (اجر) وټاکی ، او پښتو ژبه غوره کړئ.

د لېياوټ لپاره لاندي ليکنو ځخه يوه کاپي کړئ ، بيا د فاصلې تنۍ ټينګه ونيسئ ، Leyoutsوټاکئ ، DIY+ ته لاړ شئ، لاندي ليکنو ځخه مو چي کومه کاپي کړي وي هغه به درته ښکاره کړي ، تاسي paste غوره کړئ ، نو لېياوټ کيليدړه به جوړه شي. که بله کيليدړه غواړئ بله ليکنه کاپي کړئ په همدې توګه تاسي په خپله خوښه بله هم جوړولی شي.

https://play.google.com/store/apps/details?id=kl.ime.

(۱)

(۲)

(۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لوست کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ پَښتو ژَبې اَلِفبا یا اَبېڅۍ ٤٨ توّرۍ لَرۍ ، څَلوېښت توّرۍ یې بې غَږه دۍ ، اَو ٧ توّرۍ یې غَږېز دۍ

بې غَږه توّرۍ یې دا دۍ

| شمېر | پښتو بڼه | لاتیني بڼه |
|---|---|---|
| ١ | ب | b |
| ٢ | پ | p |
| ٣ | ت | t |
| ٤ | ټ | ṭ |
| ٥ | ث | θ |
| ٦ | ج | j |
| ٧ | چ | č |
| ٨ | ح | ḥ |
| ٩ | خ | x |
| ١٠ | څ | c |
| ١١ | ځ | ǰ |
| ١٢ | د | d |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ḍ | دٜ | ١٣ |
| δ | ذ | ١٤ |
| r | ر | ١٥ |
| ṛ | رٜ | ١٦ |
| z | ز | ١٧ |
| ž | ژ | ١٨ |
| ẓ | زٜ | ١٩ |
| s | س | ٢٠ |
| š | ش | ٢١ |
| ṣ | ښ | ٢٢ |
| s̱ | ص | ٢٣ |
| ẕ | ض | ٢٤ |
| ṯ | ط | ٢٥ |
| z̄ | ظ | ٢٦ |
| ʕ | ع | ٢٧ |
| ğ | غ | ٢٨ |
| f | ف | ٢٩ |
| q | ق | ٣٠ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۳۱ | ک | k |
| ۳۲ | ګ | g |
| ۳۳ | ل | l |
| ۳۴ | م | m |
| ۳۵ | ن | n |
| ۳۶ | ڼ | ṇ |
| ۳۷ | و | w |
| ۳۸ | ه | h |
| ۳۹ | ء | |
| ٤۰ | ي | y |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غږيز توري

غږيز توري دا دي:

۱ـ لنډ اَلِف : (اَ ـــَ ـــه / a)

۲ـ لَنډه يا : (ئ / i)

۳ـ لنډ واو: (ؤ/ u)

۴ـ وږد اَلِف : ( ا / ā)

۵ـ وږده يا : (ې / e)

۶ـ وږد واو : (و/ o)

۷ـ زوَرکَي :(*ـــ ْ ـــ ۀ / ə)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کلمو په بېلابېلو برخو کې د غږیزو تورو بڼې

لَنډ اَلِف (اَ ـَـ ـه/ a)

پیَل کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اَح | اَچ | اَج | اَث | اَټ | اَت | اَپ | اَب |
| aḥ | ač | aj | aθ | aṭ | at | ap | ab |
| اَړ | اَر | اَذ | اَډ | اَد | اَځ | اَڅ | اَخ |
| aṛ | ar | aδ | aḍ | ad | aǰ | ac | ax |
| اَض | اَص | اَښ | اَش | اَس | اَږ | اَژ | اَز |
| aẕ | as̱ | aṣ | aš | as | aẓ | až | az |
| اَګ | اَک | اَق | اَف | اَغ | اَع | اَظ | اَط |
| ag | ak | aq | af | aǧ | aʕ | az̄ | aṯ |
| اَي | اَء | اه | اَو | اَڼ | اَن | اَم | اَل |
| ay | aa | ah | aw | aṇ | an | am | al |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنځ کي

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حَـ | چَـ | جَـ | ثَـ | ټَـ | تَـ | پَـ | بَـ |
| ḥa | ča | ja | ɵa | ṭa | ta | pa | ba |
| ړَ | رَ | ذَ | ډَ | دَ | ځَـ | څَـ | خَـ |
| ṛa | ra | δa | ḍa | da | ǰa | ca | xa |
| ضَـ | صَـ | ښَـ | شَـ | سَـ | ږَ | ژَ | زَ |
| z̠ | s̠a | ṣa | ša | sa | ẓa | ža | za |
| ګَ | کَ | قَـ | فَـ | غَـ | عَـ | ظَـ | طَـ |
| ga | ka | qa | fa | ğa | ʕa | z̄a | t̠a |
| يَـ | ءَ/اَ | هَـ | وَ | ڼَـ | نَـ | مَـ | لَـ |
| ya | a | ha | wa | ṇa | na | ma | la |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حه | چه | جه | ثه | ټه | ته | په | به |
| ḥa | ča | ja | ɵa | ṭa | ta | pa | ba |
| ړه | ره | ذه | ډه | ده | ځه | څه | خه |
| ṛa | ra | δa | ḍa | da | ǰa | ca | xa |
| ضه | صه | ښه | شه | سه | ږه | ژه | زه |
| z̲ | s̲a | ṣa | ša | sa | ẓa | ža | za |
| ګه | که | قه | فه | غه | عه | ظه | طه |
| ga | ka | qa | fa | ğa | ʕa | z̄a | t̲a |
| يه | ءه | هه | وه | ڼه | نه | مه | له |
| ya | a | ha | wa | ṇa | na | ma | la |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لَندہ زیر : (یٛ _ i)

پیَل کيِ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| يٛح | يٛچ | يٛج | يٛث | يٛٹ | يٛت | يٛپ | يٛب |
| iḥ | ič | ij | iɵ | iṭ | it | ip | ib |
| يٛڑ | يٛر | يٛذ | يٛڈ | يٛد | يٛځ | يٛڅ | يٛخ |
| iṛ | ir | iδ | iḍ | id | iǰ | ic | ix |
| يٛض | يٛص | يٛښ | يٛش | يٛس | يٛږ | يٛژ | يٛز |
| iẕ | iṣ̱ | iṣ | iš | is | iẓ | iž | iz |
| يٛګ | يٛک | يٛق | يٛف | يٛغ | يٛع | يٛظ | يٛط |
| ig | ik | iq | if | iğ | iʕ | iz̄ | iṯ |
| يٛيِ | یٛء | يٛه | يٛو | يٛڼ | يٛن | يٛم | يٛل |
| iy | ii | ih | iw | iṇ | in | im | il |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنحٔ كيِ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حيٛـ | چيٛـ | جيٛـ | ثيٛـ | ٹيٛـ | تيٛـ | پيٛـ | بيٛـ |
| ḥi | či | ji | θi | ṭi | ti | pi | bi |
| ڑيٛـ | ريٛـ | ذيٛـ | ڈيٛـ | ديٛـ | حٔيٛـ | څيٛـ | خيٛـ |
| ṛi | ri | δi | ḍi | di | ǰi | ci | xi |
| ضيٛـ | صيٛـ | ښيٛـ | شيٛـ | سيٛـ | زٜيٛـ | ژيٛـ | زيٛـ |
| z̠ | s̠i | ṣi | ši | si | ẓi | ži | zi |
| گيٛـ | کيـ | قيٛـ | فيٛـ | غيٛـ | عيٛـ | ظيٛـ | طيٛـ |
| gi | ki | qi | fi | ği | ʕi | z̄i | ṯi |
| ييٛـ | اِيٛـ | هيٛـ | ويٛـ | ڻيٛـ | نيٛـ | ميٛـ | ليٛـ |
| yi | i | hi | wi | ṇi | ni | mi | li |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حی̂ | چی̂ | جی̂ | ثی̂ | ټی̂ | تی̂ | پی̂ | بی̂ |
| ḥi | či | ji | θi | ṭi | ti | pi | bi |
| ړی̂ | ری̂ | ذی̂ | ډی̂ | دی̂ | څی̂ | ځی̂ | خی̂ |
| ṛi | ri | δi | ḍi | di | ǰi | ci | xi |
| ضی̂ | صی̂ | ښی̂ | شی̂ | سی̂ | ږی̂ | ژی̂ | زی̂ |
| z̠ | s̠i | ṣi | ši | si | ẓi | ži | zi |
| ګی̂ | کی̂ | قی̂ | فی̂ | غی̂ | عی̂ | ظی̂ | طی̂ |
| gi | ki | qi | fi | ği | ʕi | z̄i | t̠i |
| یی̂ | ءی̂ | هی̂ | وی̂ | ڼی̂ | نی̂ | می̂ | لی̂ |
| yi | i | hi | wi | ṇi | ni | mi | li |

که چېرې يَوه عَربئ کلمه زبر لَرئ نو دَ پَښتو ژَبئ په نوئ لیکدود کې به هَم دَ زبر په بَڼه لیکَل کیږئ لکه : اِسلام، اِنعام اِکرام چې هَمزه زبر لَرئ او سالِم ، عالِم چې لام زبر لَرئ ، اَو تَلَفُظ یې دَ لَنډئ یا په څېر دَي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لَنډ واو: (ۇ / u)

### پَیل کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۇح | ۇچ | ۇج | ۇث | ۇټ | ۇت | ۇپ | ۇب |
| uḥ | uč | uj | uө | uṭ | ut | up | ub |
| ۇړ | ۇر | ۇذ | ۇډ | ۇد | ۇځ | ۇڅ | ۇخ |
| uṛ | ur | uδ | uḍ | ud | uǰ | uc | ux |
| ۇض | ۇص | ۇښ | ۇش | ۇس | ۇږ | ۇژ | ۇز |
| uz̠ | us̠ | uṣ | uš | us | uẓ | už | uz |
| ۇګ | ۇک | ۇق | ۇف | ۇغ | ۇع | ۇظ | ۇط |
| ug | uk | uq | uf | uğ | uʕ | uz̄ | ut |
| ۇي | ۇء | ۇه | ۇو | ۇڼ | ۇن | ۇم | ۇل |
| uy | uu | uh | uw | uṇ | un | um | ul |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مَنځ اَو پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حۉ | چۉ | جۉ | ثۉ | ټۉ | تۉ | پۉ | بۉ |
| ḥu | ču | ju | ɵu | ṭu | tu | pu | bu |
| ړۉ | رۉ | ذۉ | ډۉ | دۉ | ځۉ | څۉ | خۉ |
| ṛu | ru | δu | ḍu | du | ǰu | cu | xu |
| ضۉ | صۉ | ښۉ | شۉ | سۉ | ږۉ | ژۉ | زۉ |
| z̠ | su | ṣu | šu | su | ẓu | žu | zu |
| ګۉ | کۉ | قۉ | فۉ | غۉ | عۉ | ظۉ | طۉ |
| gu | ku | qu | fu | ğu | ʕu | z̄u | t̠u |
| يۉ | ءۉ، اُ | هۉ | وۉ | ڼۉ | نۉ | مۉ | لۉ |
| yu | u | hu | wu | ṇu | nu | mu | lu |

که چیرې یَوه عَربیْ کلمه پیښ لَریْ نوّ دَ پَښتوّ ژَبیْ پهٔ نْویْ لیٚکدوّد کې به هَم
دَ پیښ پهٔ بَڼه لیٚکَل کیٚږیْ لَکه : اُخرَویْ چې هَمزه پیښ لَریْ او قُران اَو
مُصطَفی چې قاف اَو میٚم پیښ لَریْ اَو تَلَفُظ یې دَ لَنډ واو پهٔ څیر دَي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۋرد اَلِف (ا)

پَيل کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اب | اپ | ات | اټ | اث | اج | اچ | اح |
| āb | āp | āt | āṭ | āθ | āj | āč | āḥ |
| اخ | اڅ | اځ | اد | اډ | اذ | ار | اړ |
| āx | āc | āǰ | ād | āḍ | āδ | ār | āṛ |
| از | اژ | اږ | اس | اش | اښ | اص | اض |
| āz | āž | āẓ | ās | āš | āṣ | āṣ̱ | āẕ |
| اط | اظ | اع | اغ | اف | اق | اک | اګ |
| āṯ | āẕ | āʕ | āğ | āf | āq | āk | āg |
| ال | ام | ان | اڼ | او | اه | اء | اي |
| āl | ām | ān | āṇ | āw | āh | āa | āy |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مَنځ اَو پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حا | چا | جا | ثا | ټا | تا | پا | با |
| ḥā | čā | jā | ɵā | ṭā | tā | pā | bā |
| ړا | را | ذا | ډا | دا | ځا | څا | خا |
| ṛā | rā | δā | ḍā | dā | ǰā | cā | xā |
| ضا | صا | ښا | شا | سا | ږا | ژا | زا |
| z̲ | s̲ā | ṣā | šā | sā | ẓā | žā | zā |
| ګا | کا | قا | فا | غا | عا | ظا | طا |
| gā | kā | qā | fā | ğā | ʕā | z̄ā | t̲ā |
| یا | آ | ها | وا | ڼا | نا | ما | لا |
| yā | ā | hā | wā | ṇā | nā | mā | lā |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۋږده یا (ې)

### پَیل کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ېب | ېپ | ېت | ېټ | ېث | ېج | ېچ | ېح |
| eb | ep | et | eṭ | eθ | ej | eč | eḥ |
| ېخ | ېڅ | ېځ | ېد | ېډ | ېذ | ېر | ېړ |
| ex | ec | eǰ | ed | eḍ | eδ | er | eṛ |
| ېز | ېژ | ېږ | ېس | ېش | ېښ | ېص | ېض |
| ez | ež | eẓ | es | eš | eṣ | es̱ | eẕ |
| ېط | ېظ | ېع | ېغ | ېف | ېق | ېک | ېګ |
| eṯ | ez̄ | eʕ | eğ | ef | eq | ek | eg |
| ېل | ېم | ېن | ېڼ | ېو | ېه | ېء | ېي |
| el | em | en | eṇ | ew | eh | ee | ey |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنځ کي

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حېـ | چېـ | جېـ | ثېـ | ټېـ | تېـ | پېـ | بېـ |
| ḥe | če | je | ɵe | ṭe | te | pe | be |
| ړېـ | رېـ | ذېـ | ډېـ | دېـ | ځېـ | څېـ | خېـ |
| ṛe | re | δe | ḍe | de | ǰe | ce | xe |
| ضېـ | صېـ | ښېـ | شېـ | سېـ | ږېـ | ژېـ | زېـ |
| z̠ | s̠e | ṣe | še | se | ẓe | že | ze |
| ګېـ | کېـ | قېـ | فېـ | غېـ | عېـ | ظېـ | طېـ |
| ge | ke | qe | fe | ğe | ʕe | z̄e | t̠e |
| يېـ | ءېـ | هېـ | وېـ | ڼېـ | نېـ | مېـ | لېـ |
| ye | e | he | we | ṇe | ne | me | le |

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حې | چې | جې | ثې | ټې | تې | پې | بې |
| ḥe | če | je | ɵe | ṭe | te | pe | be |
| ړې | رې | ذې | ډې | دې | ځې | څې | خې |
| ṛe | re | δe | ḍe | de | ǰe | ce | xe |
| ضې | صې | ښې | شې | سې | ږې | ژې | زې |
| z̠ | s̠e | ṣe | še | se | ẓe | že | ze |
| ګې | کې | قې | فې | غې | عې | ظې | طې |
| ge | ke | qe | fe | ğe | ʕe | z̄e | t̠e |
| يې | ءې | هې | وې | ڼې | نې | مې | لې |
| ye | e | he | we | ṇe | ne | me | le |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۆړد واو(ۆ)

پيَل کي

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۆح | ۆچ | ۆج | ۆث | ۆټ | ۆت | ۆپ | ۆب |
| oḥ | oč | oj | oɵ | oṭ | ot | op | ob |
| ۆړ | ۆر | ۆذ | ۆډ | ۆد | ۆځ | ۆڅ | ۆخ |
| oṛ | or | oδ | oḍ | od | oǰ | oc | ox |
| ۆض | ۆص | ۆښ | ۆش | ۆس | ۆږ | ۆژ | ۆز |
| oẕ | os̱ | oṣ | oš | os | oẓ | ož | oz |
| ۆګ | ۆک | ۆق | ۆف | ۆغ | ۆع | ۆظ | ۆط |
| og | ok | oq | of | oğ | oʕ | oz̄ | oṯ |
| ۆي | ۆء | ۆه | ۆو | ۆڼ | ۆن | ۆم | ۆل |
| oy | oo | oh | ow | oṇ | on | om | ol |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مَنځ او پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حۆ | چۆ | جۆ | ثۆ | ټۆ | تۆ | پۆ | بۆ |
| ḥo | čo | jo | θo | ṭo | to | po | bo |
| ړۆ | رۆ | ذۆ | ډۆ | دۆ | ځۆ | څۆ | خۆ |
| ṛo | ro | δo | ḍo | do | ǰo | co | xo |
| ضۆ | صۆ | ښۆ | شۆ | سۆ | ږۆ | ژۆ | زۆ |
| z̲ | s̲o | ṣo | šo | so | ẓo | žo | zo |
| ګۆ | کۆ | قۆ | فۆ | غۆ | عۆ | ظۆ | طۆ |
| go | ko | qo | fo | ğo | ʕo | z̄o | t̲o |
| يۆ | ءۆ | هۆ | وۆ | ڼۆ | نۆ | مۆ | لۆ |
| yo | o | ho | wo | ṇo | no | mo | lo |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زوَرکَي ( -ْ-ۀ)

### مَنځ کي

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حْـ | چْـ | جْـ | ثْـ | ټْـ | تْـ | پْـ | بْـ |
| ḥə | čə | jə | θə | ṭə | tə | pə | bə |
| ړْ | رْ | ذْ | ډْ | دْ | ځْـ | څْـ | خْـ |
| ṛə | rə | δə | ḍə | də | ǰə | cə | xə |
| ضْـ | صْـ | ښْـ | شْـ | سْـ | ږْ | ژْ | زْ |
| z̲ | s̲ə | ṣə | šə | sə | ẓə | žə | zə |
| ګْـ | کْـ | قْـ | فْـ | غْـ | عْـ | ظْـ | طْـ |
| gə | kə | qə | fə | ğə | ʕə | z̄ə | t̲ə |
| يْـ | ءْ | هْـ | وْ | ڼْـ | نْـ | مْـ | لْـ |
| yə | ə | hə | wə | ṇə | nə | mə | lə |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاي کې

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حهٔ | چهٔ | جهٔ | ثهٔ | ټهٔ | تهٔ | پهٔ | بهٔ |
| ḥə | čə | jə | ɵə | ṭə | tə | pə | bə |
| ړهٔ | رهٔ | ذهٔ | ډهٔ | دهٔ | ځهٔ | څهٔ | خهٔ |
| ṛə | rə | δə | ḍə | də | ǰə | cə | xə |
| ضهٔ | صهٔ | ښهٔ | شهٔ | سهٔ | ږهٔ | ژهٔ | زهٔ |
| z̠ | s̠ə | ṣə | šə | sə | ẓə | žə | zə |
| ګهٔ | کهٔ | قهٔ | فهٔ | غهٔ | عهٔ | ظهٔ | طهٔ |
| gə | kə | qə | fə | ğə | ʕə | z̄ə | t̠ə |
| یهٔ | ءهٔ | ههٔ | وهٔ | ڼهٔ | نهٔ | مهٔ | لهٔ |
| yə | ə | hə | wə | ṇə | nə | mə | lə |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوَست

غَرِیز توّرئ

## ۱ـ لَنډ اَلِف (اَ ــ َ ــ ه)

اَفغان afğān

اَنځوّر anǰur

اَنګوّر angur

مَزَل ( َ َ ) mazal

ستَن ( َ ) stan

وَر ( َ ) war

ستوّنزه stunza

توّبه toba

کوّربه korba

(c) ketabton.com: The Digital Library



لَنډ اَلِف درې بَڼې لري

پيَل کې : اَ

مَنځ کې : ◌َ

پاي کې : ه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲ـ لَنډه یا(ۍ)

ۍره ira

ۍنګوړ ingor

ۍنځَر inǰar

مۍنه mina

هۍله hila

وۍنه wina

سَړۍ (جَمعَ) saṛi

ځۍ ǰi

بیاتۍ byāti

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې يَوه عَرَبئ کلمه زېر لَرئ نو دَ پَښتو ژَبئ په نوئ لیکدود کې به هَم دَ زېر په بَڼه لیکَل کیږئ لَکه :

اِسلام islām

اِنعام inʕām

اِکرام ikrām، کې چې هَمزه زېر لَرئ اَو

سالِم sālim

عالِم ʕālim

کې چې لام زېر لَرئ، که زېر نه لَرئ بَلکې مده یا وئ نو لَنډه یا به لیکَل کیږئ لَکه :

شَریف šarif

کَریم karim

ایمان ımān

چې عَرَبئ کې یاکانئ دئ اَو پَښتو کې لَنډه یا ویل کیږئ.

مَده یا : هَغه یا چې مَخکې یې زېر وئ لَکه: شَرِیْفٌ. Šariyf

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٣ـ لَنډ واو (ۊ)

ۊبهٔ ubə

ۊښ uṣ

ۊږد uẓd

سۊر sur

زۊم zum

ړۊند ṛund

ځۊ ǰu

وړۊ wṛu

یۊ yu

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې یَوه عَرَبۍ کلمه پېښ لَرئ نوَ دَ پَښتوَ ژَبۍ پۀ نوئ لیکدوَد کې به هَم دَ پېښ پۀ بَڼه لیکَل کیږئ لَکه :

اُخرَوئ uxrawi کې چې هَمزه پېښ لَرئ او

قُران qurān

مُصطَفی muṣtafā

کې چې قاف اَو میم پېښ لَرئ، که پېښ نه لَرئ بَلکئ مَده واو وئ نوَ لَنډ واو به لیکَل کیږئ لَکه :

مَنصوُر manṣur

مَعلوُم maʕlum کې چې عَرَبۍ کې واوۨنه دئ اَو پَښتوَ کې لَنډ واو ویل کیږئ.

مَده واو : هَغه واو چې مَخکې ترې پېښ وئ لَکه : مَعْلُوْمٌ. maʕluwm

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٤ـ ۏرد اَلِف(ا)

اواز (آواز) āwāz

اش (آش) āš

ارام (آرام) ārām

مار mār

لاس lās

کان kān

لۏبیا lobyā

خَندا xandā

ماما māmā

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٥ـ ۆږده یا(ې)

ېشېدَل eše̱dal

ېغ eğ

ېل el

ډېر ḍer

ژېړ žeṛ

ټېل ṭel

شیٖدې šıde

ویٖزې wize

لَمبې lambe

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ٦- ۏړد واو (ۏ)

ۏر (اور) or

ۏړه (اوړه) oẕa

ۏس (اوس) os

کۏر kor

ټۏل ṭol

کۏړ koẕ

راډيۏ rāḍyo

پېښۏ Pišo

زانګۏ Zango

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷- زوَرکَي ( ــ ْ ــ ۀ)

کْلۍ ( ْ ) (کلي) kəli

لْږ ( ْ ) ləẓ

تْر ( ْ ) tər

ۏړۀ oṛə

تۀ tə

زۀ zə

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تَمرين

لاندې کَلِمې نْوې لیْکدوْد ته وارَوْي

| | |
|---|---|
| اوږهٔ | خولهٔ |
| اومهٔ | موندته |
| اوبښته | انګار |
| غښتلي | ارمان |
| میږني | هیواد |
| لامبو | انتقام |
| ښارو | ایسته کول |

(c) ketabton.com: The Digital Library





# اَ

اَللّٰه يَو دَي.

مُحَمَّد دَ اَللّٰه پَيغَمبَر دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ب

بابا

بابا قُران شَرِيْف وايِيْ
قُران كَرِيْم دَ اَللهُ كِتاب دَي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پ

پاک

زهٔ خپَل کالیٔ پاک ساتَم
پاکوالَي دَ ایمان یَوه بَرخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ت

تۉره

اَحمَد تۉره لَرئ

پهٔ تۉره جِهاد کَوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټ

ټوپَک

زَما ماما ټوپَک لَرئ.

غوټۍ په ټال کې زانګئ.

ټوکَر له مالوچو جوړېږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ث

ثَواب

لمونځ کَوَل ثَواب لَرئ.

کَوثَر دَ ثَواب کارونه کَوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ج

جِهاد

جِهاد كَوَل فَرض دئ.

جَمال مُجاهِد دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چ

چَمَن

دا چَمَن شِیْن دَي.

چیْنار دَنګه وَنه ده.

دَ چیْنې وُبهٔ خوَږې دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ح

## حَج

حَج کوَل يَو ځَل فَرض دئ

دَ حامِد پلار حاجئ دي

پهٔ کال کې يَو ځَل حَج اَدا

کيږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خ

## خَلک

خَلک پهٔ ژمْیٔ کښې تَودې جامې اَغوُندیٔ.

پهٔ اَوداسهٔ کښې دَ مَخ پرېمینځَل فَرض دیٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څ

څادَر

اَڅَک څادَر لَرئ.

پهٔ څادَر لمۀنځ کَوئ.

دَ مازديګَر څَلوّر رَکَعته دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځ

ځان

زهٔ خپَل ځان پاک ساتَم.

ځاله کې هَګْې دیٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د

## دۉکان

داوُد دۉکان لَری̂.

ناروْغ دَرمَل خۉری̂.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډ

# ډوډۍ

زۀ پۀ بِسمِ اللهِ الرَّحمنِ الرَّحِيم سره دَ ډوډۍ پۀ خوړَلو پيَل کَوۆم.

سَوئ ډوډۍ خوړَل روغتيا ته زيان رَسوئ.

کِتابتون کې ډول ډَول کِتابونه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ذ

## ذِکر

دَ اَللهُ ذِکر کوَل ثَواب لَرئ
ذاکِر پهٔ مَدرَسه کښې لوَست
وايئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ر

روژه

دَ رَمَضان پهٔ مياشت کي روژه

نيوَل فَرض دئ.

توَل مُسْلمانان سَره ورونه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ړ

ړوند

ړوند سړي څۀ نه ویني.

زۀ لۀ ړاندۀ سره مرسته کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ز

زَلمي

زَلمي ښوَونځیٔ ته ځیٔ.

زهٔ ۆس لیکَل کوَلَي شَم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژ

ژَمي

پهٔ ژْمئ کې سارهٔ وئ.

شاهِد ژرَنده لَرئ.

زهٔ پهٔ پَښتو ژَبه لیکَل کوَلَي

شَم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ږ

ږیٛره

دَ ږیٛرىٛ پرېښوٚدَل سُنَت دىٛ.

زموٛږ ښوٚووٛنکَي ږیٛره لَرىٛ.

ږَلْي سَرہ وىٛ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# س

## سَلام

سَلام اَچَوَل سُنَت دیٔ.

بنهٔ هَلک پهٔ لاره کې پهٔ مْشَرانۏ سَلام اَچَویٔ.

سالِم دَ مَسرۏر ورۏر دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ش

شيډي

غوا شيډي کَوئ.

شاکِر شيډي څښئ.

زهٔ دَ اَللّٰه شُکر کَوؤم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښ

ښار

دا ښار دَی.

پهٔ ښار کې ګڼهګوڼه وی.

ښار کې لوٚی لوٚی واټونه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ص

## صادِق

صادِق رېښتوني زده کوونکی دی.

صُندوق کې جامې دي.

صَبر ښه خوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ض

ضَرَر

ضَرَر رَسَوَل کْۉنا لَرئ.

حَوض کي ۉبهٔ دئ.

ۉبهٔ دَ ژۉَند لْپاره‌ضَرۉرئ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ط

## طالِب

زهٔ دَ مَدرَسې زده کَوۏنکَي یَم.

طاهِر بنهٔ طالِب دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظ

ظُلم

کافِران ظالِمان دئ.

ظرێف دَ ظاهِر ورۆر دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ع

## عِلم

دَ عِلم زدَکړه فَرض ده.

زهٔ پهٔ مَدرَسه کښې عِلم زده کَوۀم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غ

## غَیرَت

غَنۍْ یَو غَیرَتۍْ مُسْلمان دَي.

هغه لهٔ غرېبانۏ سَره مرَسته کَوۍْ.

اَفغانښتان لوَړ اَو جَګْ غرۏنه لَرۍْ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ف

## فُرقان

فُرقان دَ قُرآن نوۄم دَي.

قُرآن دَ اَللّٰه کِتاب دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ق

قَلَم

دا قَلَم دَي.

زهٔ پهٔ قَلَم لیکَل کَوُم.

قاریٔ قُرآن لوَلیٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ک

کابَل

کابَل دَ اَفغانِښتان پلازمېنه ده

مۆږ خپَل کوَر اَو چاپېریال

پاک ساتۆ.

کَوتَره پهٔ هَوا کې اَلوَزیٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګ

ګولاب

دا دَ ګولاب ګوَل دَي.

پهٔ بَڼ کښې رَنګارَنګ ګولونه

شنهٔ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ل

## لار

زۀ دَ لارۍ پۀ بنۍ اَرخ ځَم.

لۀ لارۍ ضَرَرۍ شیان لَرۍ

کوَل ثَواب لَرۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# م

## مۆر

زهٔ دَ خپَلۓ مۆر خِدمَت کَوۄم.
مۆر پهٔ اَولاد ډېر حَقۄنه لَرىٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن

ناک

ناک خوَږه مېوه ده.

زهٔ خپَل نوُم لیکَلَي شَم.

ننګرَهار دَ اَفغانستان یوَ

وَلایَت دَي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ڼ

بَڼ

دا بَڼ دَي.

پهٔ بَڼ کې دَ مڼوٚ وَنۍٔ دۍٔ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# و

## واوره

پهٔ ژمئ کښې واورئ ۇرئ

ورَي دَ سپَرلئ لۆمړي میاشت

ده.

وْرئ ته خوارهٔ وَرکوَل ثوَاب

لَرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ه

## هَوا

زَمُوږ هیُواد ښه هَوا لَرئ.

زهٔ پهٔ لوَست کي ښَه کَوُم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ۂ

اِسلام زمونږ دين دَي.

مونږ دَ اِبراهيم - عَلَيهِ السَلام-

پۀ مِلَت يو.

ما وّس دَ پَښتوّ اِملاء زده

کَړې ده.

اِکرام، مَأمور، سائِل، لاجِئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ي

## یوٚم

یوٚم دَ بْزګَرئ یَوه آَله ده.

بنوٚوۏنکَي زده کَوۏنکوٚ ته وَینا کَوئ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**